د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی
خپلواکه ګډه کمیټه

کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری

**Independent Joint Anti-Corruption**
**Monitoring & Evaluation Committee**

## رسنیزه اعلامیه

# د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په چارو کې د لاسته راوړنو او ناکامیو په اړه خپل وروستی شپږ میاشتنی رپوټ خپروي

کابل- افغانستان ، د وري ۲۷، ۱۳۹۳ لمریز کال: د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) خپل پنځم شپږ میاشتنی رپوټ چې اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې د ادارتو ښې او بدې کړنې ښئ، خپور کړ. دا رپوټ د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په ډګر کې، د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) د نوښتونو په اړه وروستۍ ارزونه ښئ او په افغانستان کی د اداري فساد پر وړاندې د ملي او نړیوالو هڅو د یو خپلواک څارونکي په توګه د څارنې او ارزونې د کمیټې(MEC ) په کړنو باندې رڼا اچوي.

د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) د خپلو ټولو سپارښتنو او بنچمارکونو د پلي کولو په اړه کره ارزونه ترسره کړیده. پدې ارزونه کی د سپارښتنو پلي کونکي اداري د ځواب ورکونې پر بنسټ ترتیب شویدي. د اداراتو ترتیب ښئ چې نړیوال مرستندویه امنیتي ځواکونه(ISAF )، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت(MORR ) او د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (AISA) د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په چارو کې تر ټولو کمزورې اداري دي.

د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) د ارزونې پایلې د اداري فساد اړوند قضیو د عدلي تعقیب په اړه جدي ننګونې ښئ چې لویې څارنوالۍ ته د دولتي ادارو پواسطه د سلهاو لیږل شوو قضیو په اړه ناکافی عدلي تعقیب او څیړنې د دې ادعا پخلی کوي. د لوړې کچې په قضیو د نمونې په ډول د کابل بانک د کړکیچ او سردار محمد داود خان د روغتون په قضیه کې له جزا خوندیتوب زیات ښودل شوی او همدارنګه جنایي تعقیب مخکې بې له کومې وجې ځنډول شوی او تورونه وروسته لرې شویدي.

د پرمختګ د کمښت سربیره، د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) د سپارښتنو د پلی کولو په اړه ځینې لاسته راوړنې هم تر سترګو کیږي. دغه لاسته راوړنې د ساختماني سکتور د روڼتیا د نوښت(COST ) رامنځ ته کول، چې د کاري شریکانو لپاره د ساختماني پروژو د څارنې او کنترول موکه برابروي، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کمپاین په لاره اچول چې ۲۷۰۰ دیني علماؤ پکښې ګډون درلود او د پیسو وینځلو د قانون د نوې مسودې تیارول په ځان کې نغاړي.

ښاغلی (ډراګوکاس ) د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې(MEC ) اوسنی ریس وایي:
په ۲۰۱۳ کال کې د اداري فساد اړوند ټولې ترسره شوې ارزونې د دې ښکارندوي کوي چې فساد د افغانانو د ژوند په ټولو اړخونو کې نفوذ کړی. په تیرو شپږو میاشتو کې د څارنې او ارزونې کمیټې یو لړ تدابیر پیژندلي چې کولای شي په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کې ګټور ثابت شي او د ملي او نړیوالو ادارو څخه غواړي چې په اغیزناک ډول یی پلي کړي.

د رپوټ د چمتو کولو په موده کې، د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC ) د فساد د لاملونو او د مخنیوی د لارو چارو په اړه د پوهونې د زیاتیدو د لارې خپلې اړیکې پیاوړې کړیدی. د دې موخې د تر لاسه کولو د لپاره د ولسي جرګې د غړو سره غونډې، د کړنو د ترسره کولو په موخه پرانیستي لیکونه او څلور ولایتي کاري سفرونه تر سره شویدي. د کانونو په کیندلو کې د روڼتیا د زیاتیدو، حکومت داري، د ټاکنو د کمپاینونو تمویلولو او په آیسا مؤسسه کې د حساب ورکونې او اداري چارو په اړه نوې سپارښتنې وړاندې شویدي.

د څارنې او ارزونې کمیټه (MEC) به د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د هڅو د اغیزناکتوب څخه خپلې څارنې ته ادامه ورکړي او د قانون جوړونې او پروګرام اړوند ځینو مسایلو لکه د اطلاع ورکونکو قانون، د دولت د پلټنې لارې چارې، د ځمکو لاندې کول، د اداري فساد پر وړاندې د درملو د واردولو د پروسې د زیانمننې ارزونه او د مرستو د اغیزناکتوب په اړه به خپلواک لیدلوری وړاندې کړي.

د لا ډیرو مالوماتو لپاره د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې سره په اړیکه کې شئ : **۰۰۹۳۷۹۸۷۵۰۵۲۷**

www.mec.af contact@mec.af

د کمیټې انځورونه له لاندې پتې څخه ترلاسه کولای شئ : www.flickr.com/photos/mec123/